مدینے کی مچھلی

رسالہ نمبر: 97

# د مدینے مهے




شیخ طریقت، امیر اهلسنت، باني دعوت اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

**محمد الیاس عطار قادري رضوي**

دامت برکاتهم العالیة


پښتو ترجمه:
مجلس تراجم
(دعوت اسلامي)

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَيۡنَا حِكۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَيۡنَا رَحۡمَتَكَ يَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَام**

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج ص۰ دار الفکر بيروت)



طالب غم مدینہ بقیع ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: د مدينے مهے

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته**

کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمي وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه ته رجوع اوکړئ.

# د مدينے مهے

د شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د بيان دا رِساله "مدینے کی مچھلی" په اردو ژبه کښې ليکلي شوي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دي رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دي ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د مدينے مهے[1]

شيطان كه هر څومره ناراستي درولي خو دا بيان پوره اولولئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د خپل ذات نه به مو د بل مسلمان د پاره د اِيثار كولو جذبه زياته شي او د جَنَّت لار به مو آسانه شي.

## د دُرود شريف فضيلت

د قيامت په ورځ به د يو مسلمان نيكۍ په مِيزان (يعني تله) كښې سپكې شي نو د ټول جهان سردار، خوږ مَدَنـي سركار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به يوه پرچۍ را اُوباسي او د نيكو په تله كښې به ئې كيږدي نو په هغې به د نيكو تله درَنه [يعني وزنداره] شي. هغه به عرض اوكړي: زما مور او پلار دِ په تاسو قربان وي! تاسو څوك ئې؟ حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرمائي: زه ستا نبي مُحَمَّد (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) يم او دا ستا دُرُودِ پاك دے كوم چه تا په ما وئيلے وو. (كتاب حُسن الظّن باللّٰه لابى بكر بن ابى الدنيا ج۱ ص۹۲ حديث ۷۹ مُلَخَّصاً)

ہم نے خطا میں نہ کی تم نے عطا میں نہ کی
کوئی کمی سرورا تم پہ کروڑوں دُرُود

[1] دا بيان امير اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د تبليغ قُرآن و سُنَّت د عالـمگير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي په عالمي مَدَنـي مركز فيضانِ مدينه كښې په هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې (په ۵ رَبِيعُ الْآخِر ھ/ ۱۰.۳.۲۰۱۱ كښې) فرمائيلے وو. د ترميم او اضافې سره ليكلے شوے حاضِر خدمت دے. مجلس مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه

مونږ په خطاګانو کښې، تاسو عطاګانو کښې
هيڅ نه دے کمے کړے په تاسو شه ډير ډير دُرُود

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بن عُمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ بيمار وو، په زړه کښې ئې د سور کړي **مهي** خوړلو خواهش پيدا شو. د هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ خادِمِ حضرتِ سَيِّدُنا **نافِع** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي: د ډير زيات تلاش نه پس ما د يو نيم دِرهَم يو **مهے** په مدينهٔ مُنَوَّره کښې پيدا کړو، ما هغه سُور کړو او د هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ په خِدمت کښې مې وړاندې کړو، په دې کښې يو سوالګر راغے، هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ اُوفرمائيل: نافِع! دا **مهے** سوالګر ته ورکړه. ما عرض اوکړو چه تاسو د دې ډير خواهش لرلو ځکه ما په ډير کوشش دا **د مدينے مهے** اخستے دے دا تاسو رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ اوخورئ زه به سوالګر ته د دې **مهي** قيمت ورکړم. هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ اُوفرمائيل چه نه، ته هغه ته هُم دا **مهے** ورکړه چنانچه ما هغه **د مدينے مهے** هغه سوالګر ته ورکړو او بيا وريسے ورغلم او په بيعه مې ترې واخستو او راغلم بيا مې هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ته وړاندې کړو. هغوئي ارشاد اُوفرمائيلو: دا **مهے** هُم هغه سوالګر ته ورکړه او کوم قيمت چه دِ ورته ادا کړے دے هغه هُم ورته پريږده. ما د حُضُور تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: **" څوك چه د كوم يو خيز خواهش لري، بيا هغه خواهش حصار کړي او په خپل ځان** (بل ځوك)

غوره کړي [یعني بل ته ئې ورکړي]، نو اللّٰه تعالیٰ به هغه اُوبخښي. (اِحۡیَاءُ الۡعُلُوم ج۳ ص۱۱٤) د اللّٰه تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي- اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اِيثار تعريف

اے عاشقانِ رَسُول او زما خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده چه حضرتِ سَيِّدُنا عبدُاللّٰه بِن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا په خپل نفس څومره قابو لرله چه د ډير زيات خواهش باوجود هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د مدينے مهے اُو نه خوړو او د ثواب حاصلولو په نِيَّت ئې خپل دُنياوي نِعمت د اللّٰه تعالیٰ په لار کښې اِيثار کړو. د اِيثار معنیٰ ده: "د نورو خلقو خواهش او حاجت ته په خپل خواهش او حاجت باندې ترجيح ورکول [یعني غوره کول]."

## د کوَرو [یعني اَنګورو] اِيثار

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُاللّٰه بِن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا د اِيثار يو بل حِکايت اوګورئ چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا نافِع رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي چه حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا بيمار شو، د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ په زړه کښې خواهِش پيدا شو چه که د کوَر ميوه [دا کال] په وړومبي ځل راشي او هغه اُوخورم، چنانچه د هغوئي زوجۂ مُحترمه حضرتِ سَيِّدَتُنا صَفِيَّه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا د يو دِرهَم کوَر را اُوغوښتل، په دې کښې يو سوالګر د هغه کوَرو سوال اوکړو،

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه بِن عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا اُوفرمائيل: دا کوَر دے سوالګر ته ورکړئ، چنانچه ور ئې کړل. بي بي صاحِبه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا بيا د يو دِرهَم کوَر را اُوغوښتل. هُم هغه سوالګر بيا راغے او سوال ئې اوکړو، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ اُوفرمائيل: دا کوَر هُم ده ته ورکړئ، تر دے چه بي بي صاحِبه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا په دريم ځل کوَر را اُوغوښتل. (شُعَبُ الْاِیْمان ج۳ ص۲۵۹ حديث۳٤۸۱)

د اللّٰه تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ماشوم والي مُبارک ادائے مُصطَفٰی

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه بِن عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا ته چه د کوم دَر نه د اِيثار دا جذبه نصيب شوي وه، د هغه دَر به څه وائے! يعني زما د خوږ خوږ آقا مکّی مَدَنی مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا شان وو چه د پئو خښلو په عُمر کښې به ئې هُم عدل و اِنصاف فرمائيلو څنګه چه په رِوايت کښې راځي، ولے چه د حضرتِ سَیِّدَتُنا حليمه سَعدِيَّه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا خپل اولاد به هُم په شودو کښې شريک وو لِهٰذا که د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هر څومره اوږے وو صرف د يو طرف نه به ئې پئ خښل. (المواهب اللّدنية ج۱ ص۷۹ مُلَخَّصاً) اعلٰی حضرت، عاشقِ مُصطَفٰی مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په خپل نعتيه دِيوان، "حدائق بخشش شريف" کښې فرمائي:

بھائیوں کیلئے ترکِ پستاں کریں
دودھ پیتوں کی نِصفَت پہ لاکھوں سلام

د ورنـړو د پـاره به ئي پـريـښودو پِـستان
د پيۍ څښونکي په انصاف ډير ډير سلام

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## هيڅ کله به نيکۍ ته اُو نه رسئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده چه زمونږه صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به د اِيثار څومره جذبه لرله، خپل خوښ څيز د الله تعالٰی په لار کښې ورکول واقعي ډير د غټ ثواب کار دے. په قُرآنِ کريم کښې الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اِرشاد فرمائي:

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۬ؕ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: هيڅ کله به نيکۍ ته اُو نه رسيږئ، تر څو پورې چه د الله په لار کښې خپل ګران [يعني خوښ] څيز ورنکړئ. (پ ٤: اٰلِ عمران آيت ٩٢)

د آيت تشريح: په خَزائِنُ الْعِرفان کښې د دې آيتِ مبارکه نه لاندې صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ليکي: د (حضرتِ سَيّدُنا) حَسَن (بَصري) رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه قول دے: کوم مال چه مسلمان ته محبوب (يعني خوښ) وي او هغه د رِضائے اِلٰهی د پاره خرچ

کړي هغه په دې آیت کښې داخل دے اګر که یوه [دانه] کجوره وي.
(تفیسرِ خازن ج۱ص۲۷۲)

## د شَکَرو بورئ

اَمیرُالمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر بِن عبد العزیز رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به د شَکَرو بورئ اخستلي او صَدَقه کولي به ئي. هغوئي رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته عرض اوکړے شو چه د دې صِرف قِیمت به مو صَدَقه کولے؟ هغوئي رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اُوفرمائیل: شَکَره ما ته محبوب او مرغُوب (یعني خوښه) ده او زه غواړم چه د الله تعالیٰ په لاره کښې خپل خوښ خیز صَدَقه کړم. (تفسِیرِ نسفی ص۱۷۲) د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د تولو نه خوښ باغ

حضرتِ سَیِّدُنا ابوطَلحه انصاري رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مدینۂ مُنَوَّره کښې د ټولو انصارو نه زیات باغونه لرل. هغوئي ته په خپل مال کښې "بَیرُحا" (نومې باغ) د ټولو نه زیات خوښ وو چه هغه د مسجِدُالنَّبَوِی الشَّرِیف عَلٰی صَاحِبِهَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام مخې ته وو. خوږ مَدَنـي آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هلته تشریف وړلو او د هغه ځائے بهترینې اوبه به ئي څښلې. چه کله د څلورمې سِپارے اولنے آیتِ کریمه: لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰی تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۬ (مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: هیڅ کله به نیکئ ته اُو نه رسیږئ، تر څو پورې چه د الله په لار کښې خپل خوښ خیز ورنکړئ.)(پ٤،اٰلِ عمران آیت۹۲) نازِل شو نو هغوئي په

دربارِ رِسالت کښې اودریدو او عرض ئې اوکړو: ما ته په خپلو مالونو کښې ''بَـیرُحـا'' د ټولو نه زیات ګران [یعني خوښ] دے، زه هغه د **اللہ** تعالیٰ په لار کښې صَدَقه کووم. زه د **اللہ** تعالیٰ سره د دې ثواب او د دې ذخیره غواړم. یارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو دا هلته ورکړئ کوم ځائے چه **اللہ** تعالیٰ ستاسو رائے قائمه کړي. رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: بَخٍ ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ یعني ''ډیره ښه! دا ډیر د ګټې مال دے'' څه چه تا اووئیل ما واوریدل، زما رائے دا ده چه ته دا په خپلو اَهلِ قَرابَت [یعني خپلوانو] کښې وَقف کړه. سَیِّدُنا ابوطَلحه اووئیل: یارَسُولُ الله! زه هُم داسې کووم. بیا سَیِّدُنا **ابوطَلحه** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ هغه باغ په خپلو عزیزانو او د تره په ځامنو تقسیم کړو. (صَحِیْحُ الْبُخاری ج۱ ص۴۹۳ حدیث ۱۴۶۱) **د اللہ تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مشهور **مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په ''مِرْاٰۃُ الْمَنَاجِیح'' جِلد ۳ صفحه کښې فرمائي: مُحَدِّثِینو د ''بَـیرُحـا'' اَته معنې کړي دي: په هغے کښې یوه دا ده چه ''حاء'' د یو سړي نوم وو چا چه دا کُوهے کنستے وو، ولے چه دا کُوهے په دې باغ کښې وو، لِهٰذا د باغ نوم هُم دا شو، هغه کُوهے تر اوسه پورې موجود دے فقیر د هغے اوبه څښلې دي. لږ نور مخکښې لیکي: حُضُور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته هُم د دې اوبه ډیرې خوښې وې، نو ځکه کوم حاجیان چه خبر وي هغوئي د بَرَکت د پاره

ضرور د دې اوبه څښيږي. (نن صبا د "بَيرُحا" زيارت نه شي کيدے او نه د هغے اوبه څښلے شي ځکه چه هغه د مسجِدُالنَّبَوِى الشَّرِيف عَلٰى صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په توسيع [يعني غځولو] کښې شامل شوے دے (خو معلومات لرونکي) په مسجِدُالنَّبَوِى الشَّرِيف عَلٰى صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام کښې د هغه مخصوص مُقام ښودنه کولے شي کوم ځائے کښې چه "بَيرُحا" وو) مُفتي صاحِب په صفحه کښې د حديثِ پاك د دې حِصَّے "ډيره ښه! دا خو ډير د ګټې مال دے" نه لاندې ليکي: يعني اے ابُو طَلحه! تا ته به د دې باغ په وقف کولو کښې ډيره ګټه کيږي، معلوميږي چه حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د اعمالو د قبولِيت هُم خبر دے او دا هُم چه د چا کوم عمل د کومې درجے قبول دے (او) دا باغ به ولے نه قبليدو! باغ هُم ښه وو، وقف کوونکے هُم ښه يعني صحابي وو او د چا په خاطر چه وقف کړے شو هغه د ښو شَهَنشاه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

سارے اچھوں میں اچھا سمجھیے جسے
ہے اُس اچھے سے اچھا ہمارا نبی (حدائقِ بخشِش شریف)

په تولو ښو کښې چه خوك اوګنړئ ښه
د هغه ښـه نه هُم ښه دے زمونږه نـبي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## بهترين اَس

په "تفسِيرِ خازِن" کښې د څلورمې سيپارے د اولنۍ آيت:

لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰی تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ ؕ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هيڅ کله به نيکئ ته اُو نه رسيږئ، تر څو پورې چه د الله په لار کښې خپل ګران [يعني خوښ] څيز ورنکړئ. (پ ٤: اٰلِ عمران آيت ٩٢)

نه لاندې دي چه حضرتِ سَيِّدُنا زيد بِن حارِثه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د دې آيت په نازليدو خپل ښه او قيمتي اس راوستلو او په دربارِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې ئې حاضر کړو او عرض ئې اوکړو: دا د الله تعالیٰ د پاره "صَدَقه" ده. خوږ خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه اس هُم د هغوئي ځوئ سيِّدُنا اُسامه بِن زيد رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ته ورکړو. حضرتِ سَيِّدُنا زيد رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ عرض اوکړو: يا رَسُولَ الله زما نِيَّت د صَدَقے وو. حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّم اُوفرمائيل: رَبّ تعالیٰ ستا صَدَقه قبوله کړه." (تفيسرِ خازن ج١ ص٢٧٢) **د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.** اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د فاروقِ اعظم وينزه خوښه شوه نو آزاده ئې کړه

اَميرُ الۡمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ حضرتِ سَيِّدُنا مُوسیٰ اَشعَري رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ته اوليکل چه زما د پاره يوه وِينزه واخله او را اوئې ليږه. هغوئي ورواليږله، هغه د سَيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ډيره خوښه شوه، نو هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ دا آيتِ کريمه لَنۡ تَنَالُوا.... (د آخري پورې) اولوستو او هغه ئې د الله د پاره آزاده کړه. (تفسيرِ طبری ج٣ ص٣٤٦ رقم ٧٣٩٠) **د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! کاش چه! په مونږه کښې هُم د اِيثار او قُربانۍ داسې جذبه پيدا شي چه مونږه هُم خپل ګران [يعني خوښ] څيزونه د الله په لار کښې قُربانوونکي جوړ شو، افسوس! مونږ خو ښه او بهترين څيزونه د خپل وجود په شان سنبال ساتو او که د الله تعالیٰ په لار کښې ورکول وي يا چا ته تُحفه ورکول وي نو عام طور رَدي څيزونه ورکوو او هغه هُم هغه کوم چه زمونږ د کار نه وي! څومره د محرومۍ خبره ده چه کوم الله جَلَّ جَلَالُهٗ مونږ ته نِعمتونه راکړي دي، هُم د هغه راکړي نِعمتونه د هغه په لار کښې ورکولو د پاره مونږ نه تياريږو. زمونږه څيزونه که غلا شي، که سخا شي يا اخوا ديخوا ورك شي نو پرواه نشته، خو آه! که زمونږ زړه نه غواړي نو د الله تعالیٰ په لار کښې ورکول نه غواړي.

دے جذبہ تو ایسا ترے نام پر دوں
پسندیدہ چیزیں لُٹا یا الٰہی

راکړې داسې جذبه چه ستا په نامه
خپل خوښ څيزونه کړم قُربان يا اِلٰهی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ابُوذر غِفاري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ بهترين اُوښ

خپل خوښ څيز د الله تعالیٰ په لار کښې د ورکولو يوه اِيمان تازه کوونکي واقِعه اولولئ او زړه خوشحاله کړئ. مشهور صحابي حضرتِ

سَيِّدُنا **ابوذَر غِفاري** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ به د مدينے مُنَوَّرے په يوه قُريشي آبادئ كښې اوسيدو. د ژوند د وخت تيرولو د پاره هغوئي يو څو اُوښان او يو كمزورے شان شپونكے لرلو. يوه ورځ ورته د خاندانِ بَنُو سُلَيم يو صاحِب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ حاضر شو او عرض ئې اوكړو چه جناب! ما ته په خپل صُحبت كښې د اوسيدو اجازت راكړئ، تاسو نه به بَرَكتونه هُم حاصلووم او ستاسو د شپونكي سره به مرسته هُم كووم. حضرتِ سَيِّدُنا اِبُوذر غِفاري رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ پرې د ځان سره د اوسيدو د پاره دا شرط (لكه "مدَني فِيس) اولګولو چه تاسو به زما اِطاعت (يعني فرمانبرداري) كوئ. عرض ئې اوكړو: په كومه خبره كښې؟ هغوئي اُوفرمائيل: **"چه كله درته زه د خپل مال نه د الله تعالٰى په لار كښې څه څيز د صَدَقه كولو د پاره اُووايم نو د ټولو نه بهترين څيز به وركوے."** هغوئي منظوره كړه او د هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د بَرَكتونو ډك صُحبتِ كښې اوسيدل ئې اختيار كړل. يوه ورځ چا حضرتِ سَيِّدُنا اَبُوذر غِفاري رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ته عرض اوكړو چه جناب! دلته د خوَړ په غاړه څه غريبان آباد دي، كه كيدے شي نو د هغوئي څه اِمداد اوكړئ. سُلَيمي صاحِب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ وائي چه سَيِّدُنا اَبُوذر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ما ته حُكم اوكړو چه "يو اوښ راوله." زه ورغلم او اِراده مې اوكړه چه د ټولو نه ښه اوښ ورولم خو په خيال كښې مې دا خبره راغله چه دا اُوښ د سَيِّدُنا اَبُوذر غِفاري رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د سوَرلئ پكار هُم راځي او مُطِيع (يعني منونكے) هُم دے. مقصد خو صرف غوښه تقسيمول دي لِهٰذا د هغه [اوښ] نه پس چه كومه د بهترينې درجے اُوښه وه هغه مې ور وړاندې كړه. هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ را ته اُوفرمائيل چه "تا خيانت

اوکړو.“ زه پوهه شوم او هُم هغه اُوښ مې حاضر کړو. هغوئي حُکم اوکړو چه د خوړ په غاړه څومره کورونه دي هغه ټول اوشميرئ او زما کور هُم پکښې شامِل کړئ، بيا اُوښ نحر [يعني حلال] کړئ او ټولو کورونو ته برابره برابره غوښه اورسوئ، چه زما کور ته هُم د نورو په مقابله کښې يو پوټے هُم زيات لاړ نه شي د دې خبرې خيال ساتئ. مونږه د حُکم مطابق اوکړه. د اوزګاريدو نه پس ئې زه اُوغوښتلم او را ته اوئې فرمائيل چه آيا ستا نه خپله وعده هيره شوې وه؟ ما عرض اوکړو چه ما ته وعده ياده وه او ورومبے مې هُم هغه اُوښ نيولے وو خو خيال مې پيدا شو چه دا اُوښ ستاسو د سوَرلئ دے او ستاسو ډير پکار راتلونکے دے، صرف ستاسو رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ د ضرورت په وجه مې پريښودے وو. اوئې فرمائيل: واقعي صرف زما د ضرورت په وجه دِ پريښودے وو؟ ما عرض اوکړو چه آو جي. هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ اُوفرمائيل چه د خپل ضرورت ورځ درته اُو نه ښايم؟ واوره! زما د ضرورت ورځ خو هغه ده په کومه ورځ چه د قَبْر په کنده کښې يواځې واچولے شم، باقي پاتې شو مال، نو د هغے درې حِصّه دار دي: (۱) تقدير، چه هغه مال وړلو کښې د هيڅ چا لِحاظ نه کوي (۲) ”وارِث“ چه هغه ستا د مرګ په اِنتِظار وي چه کله به مړ کيږې چه هغه ستا په مال قبضه اوکړي (۳) دريم حِصّه دار ته پخپله ئې. ([يعني] چه تقدير او وارِث د مال اخستو په مُعامله کښې هيڅ رِعايت نه کوي نو ته په خپله حِصّه اخستو کښې ولے شا ته کيږې؟ چه څومره کيدے شي د ښه نه ښه مال د الله تعالٰی په لار کښې ورکوه او د آخِرت د پاره ئې جمع کړه) دا ئې اُوفرمائيل او د څلورمې سيپارے اولنے آيتِ کريمه ئې تِلاوت کړو:

لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰی تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ ؕ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هيڅ کله به نيکئ ته اُو نه رسيږئ، تر څو پورې چه د الله په لار کښې خپل ګران [يعني خوښ] څيز ورنکړئ. (پ ٤: اٰلِ عمران آیت ٩٢)

او اوئې فرمائيل چه په هم دې وجه کوم مال چه زما د ټولو نه زيات خوښ وي هغه د **الله** تعالىٰ په لار کښې لګووم او د آخِرت د پاره ذخيره جمع کووم. (تفيسرِ دُرِّمنثورج ٢ ص ٢٦١) **د الله تعالىٰ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**کاش چه!** مونږ ته هُم د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُوذر غِفاري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د جَذبۂ اِيثار د سمندر څه نِيم څاڅکے هُم نصيب شي! په کروړونو افسوس! خپل خوښ څيز د **الله** تعالىٰ په لار کښې لګول خو لکه چه هدو زمونږه په خيال کښې هُم نشته! بس هر وخت د مُفتو [فري يعني هسې] مال حاصلولو په فِکرونو کښې نښتي يو، او خاص طور کوم کار کښې چه ثواب ډير وي نفس مو په هغے کښې د مال لګولو قطعاً اِجازت نه راکوي مَثَلًا قُرآنِ کريم يا بل ديني کتاب وغيره اخستل او لوستل اګرچه د ډير ثواب باعث دي خو زړه مو غواړي چه د دې د پاره څوك چنده راکړي يا ئې څوك په تُحفه کښې راکړي نو ښه به وي، [هُم دغسې] د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قَافِلو کښې د خپل جيب نه خرچه کولو کښې بے اندازے ثواب دے خو زمونږه ظالِم نفس دِ خوار شي، دا بدبخته هُم دا سوچ راکوي چه که بل څوك دِ خرچه برداشت کوي نو هله سفر کوه،

بلکه چه کومې ورځې په مَدَني قَافِله کښې تيرې شي چه د هغے مزدوري هُم خوك راكړي. هائے! هائے! دومره زيات حِرص لرونکے به خپل بے نیازه رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُهٗ خنګه راضي كړے شي.

سرورِ دیں لیجے اپنے ناتُوانوں کی خبر
نفس و شیطاں سیّدا کب تک دباتے جائیں گے (حدائقِ بخشش شریف)

اوكړئ مدد د كمزوري اُمّت اے د دِين سرداره
تر څو به وي آخته په شر د نفس او د شیطان کښې

## د مال نه درې قِسمه فائدې حاصليږي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واورئ! واورئ! اے د مال شوقينو واورئ! د خَاتَمُ النَّبِيِّين، جنابِ رَحمةٌ لِّلعٰلمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: بنده وائي: زما مال دے! زما مال دے! او هغه ته خو د هغه د مال نه صرف درې قِسمه فائده ده: (۱) كوم ئې چه اُوخوړو او فنا ئې كړو يا ئې (۲) واغوستو او زوړ ئې كړو يا ئې (۳) وركړو او د آخِرت د پاره ئې جمع كړو او د دې نه علاوه تلونكے دے څکه چه د نورو د پاره به ئې پريږدي او لاړ به شي. (صحیح مُسلِم ص۱۵۸۲حدیث۲۹۵۹)

## د وارِث مال

د الله تعالٰی خوږ محبُوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائيلو: په تاسو کښې كوم كس داسې دے چا ته چه د وارِث مال د خپل مال نه خوښ وي؟

صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې ثوك كيدے شي چا ته چه د خپل مال نه د بل مال عزيز وي؟ په دې خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: خپل مال هُم هغه دے کوم چه مخکښې اوليږلے شي (يعني د الله په لار کښې خرچ کړے شي) او کوم چه باقي پريپښودلے شي هغه د وارِث مال دے. (بُخاری ج٤ ص٢٣٠ حديث ٦٤٤٢)

## د مرګ په مرض کښې هُم اِيثار

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! کاش چه! ثوك په خپل ژوند کښې په خپل مال جُمات وغيره جوړ کړي او دغسې د ثوابِ جارِيه ترکيب جوړولو کښې کامياب شي! پاتې شو اولاد، نو د هغوئي نه که يو مالدار سړے دا اُمِيد لري چه دا به د ثوابِ جارِيه ترکيب اوکړي نو شايد چه دا د هغه ډيره غټه خطا ده، نن صبا چه کوم اولاد د تَرکے په تقسيم کښې په يو بل د مرګ اسره نه کوي هغه اولاد به مرحوم پلار ته د راحت رسولو د پاره څه اوکړي! [اوس په ژوند] د اِيثار فِکر جوړ کړئ هُم دا به په آخِرت کښې پکار راځي. لږ خو اُوګورئ چه زمونږه بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى د ثواب په حِرص کښې د اِيثار په معامله کښې څومره وړاندې تلي وو چنانچه حُجَّةُ الاِسلام حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په اِحياءُ العُلوم کښې نقل کوي چه حضرتِ سَيِّدُنا بِشر بن حارِث رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د مرګ په مرض پروت وو، ثوك راغے او سوال ئې اوکړو: هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه خپل قميص ويستلو او هغه ته ئې ورکړو، او ځان له ئې قرض رخت [يعني

کېږه] حاصله کړه او په هُم هغے کښې وفات شو. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج ۳ ص ۳۱۹) د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## په سخاوت کښې حيرانوونکي تادي

خوږو خوږو اسلامي وروڼرو! تاسو اوليده چه زمونږه اَسلاف به د نيکو خومره حريصان وو چه د مرګ په مرض کښې ئې هُم د ثواب موقع د لاسه ضائع نه کړه. هغه حَضَراتو به نيکئ کښې ډير څله دومره تادي کوله چه بنده ورته حيرانيږي چنانچه اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په "فَتَاویٰ رَضَوِيَّه" جِلد ۱۰، صفحه ۸۴ کښې فرمائي چه سَيِّدُنا و اِبنِ سَيِّدُنا، اِمام اِبنُ الاِمام حضرتِ اِمام مُحَمَّد باقِر رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه [د ځان د پاره] يوه ښه قُبا (يعني ښه جُبّه) تياره کړه. طهارت خانے ته ئې تشريف يوړلو، هلته خيال ورغے چه دا د الله تعالیٰ په لار کښې ورکړه، فوراً ئې خادِم ته غږ اوکړو، هغه ديوال ته رانږدے شو. حضرت قُبا شريفه ويستله او ور ئې کړه چه لار شه دا فلانکي مُحتاج له ورکړه. چه کله ئې بهر تشريف راوړو نو خادِم عرض اوکړو چه جناب! د دومره تادئ څه وجه وه؟ هغوئي اُوفرمائيل: څه معلومه وه چه بهر ته راتلے او په نِيَّت کښې مي فرق راغلے وے. د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

## په نيکۍ کښې تادي کول پکار دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! چه زمونږه بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به په نيکۍ کښې دومره تادي کوله چه هسې نه زړه مې مُنقَلِب شي (يعني د زړه اِراده مې بدله شي) او د نيکۍ نه محرومه شم. لِهٰذا چه کله مو د نيکۍ ذِهن جوړ شي نو فوراً کول پکار دي. فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: "په نيکو اَعمالو کښې تادي کوئ." (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه ج٢، ص٥ حديث١٠٨١)

## رُقعه لوستلو نه بغير ئې درخواست منظور کړو

افسوس! اکثر خلق اول خو د اللّٰه تعالٰی په لار کښې څه ورکوي نه او که څه ورکوي نو ډير سوچ ورته کوي، بنه پوره تحقيق اوکړي او بيا په دِيکو دِيکو او بنه په عذابولو عذابولو او په نه زړه او هغه هُم زکوٰة چه د مال خِيرے دے او هغه هُم په ډير کم مِقدار کښې او بنه په احسان زباتلو زباتلو ورکوي! حالانکه که اوکورئ نو زکوٰة ورکونکي ته خو دا سوچ کول پکار دي چه مُحسِن [يعني اِحسان کوونکے] زه نه يم، اِحسان خو د هغه دے څوك چه زما د مال خِيرے اخلي. کاش چه! داسې وے چه په غريبانانو پسے ګرځيدے او د هغوئي په خِدمت کښې حاضريدے او په ډير زيات اِحترام ئې هغوئي ته زکوٰة ورانديې کولے. د داسې خلقو د ترغيب د پاره څلور حِکايات ورانديې کيږي:

﴿١﴾ د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارے مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ٤٠٤ صفحو کتاب، "ضيائے صَدَقات" صفحه ٠٩ او ١٠ کښې دي چه يو کس

د حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حَسَن مُجتَبٰی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ په خِدمت كښې يو درخواست پيش كړو، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ فوراً اُوفرمائيل: "ستا حاجت پوره كړے شو" چا عرض اوكړو چه اے د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسيه! تاسو كه د هغه رُقعه (يعني لِيك] لوستلے وے بيا به مو د هغے مطابق جواب وركړے وے. نو حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حَسَن رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ اُوفرمائيل چه هغه به دومره ساعت زما مخې ته په ذِلَّت ولاړ وے نو بيا به په دې باره كښې الله تعالیٰ زما نه پوښتنه كولے. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۳ ص۳۰٤) **د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

## زړه په دولت نه په نيكړه اخستې شي

سُبْحٰنَ الله! سَيِّدُالاَسخِيا سَيِّدُنا اِمام حَسَن مُجتَبٰی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ خَشِيَّتِ اِلٰهي [يعني د الله تعالیٰ ويره] د خپل مال نه وړومبۍ اوساتله او په هم دې كښې كاميابي او كامراني ده چه د مال مَحَبَّت د الله په مَحَبَّت باندې غالب راتلل نه دي پكار. بيشكه په مال ډير څه اخستے شي خو د چا زړه پرې خوك نه شي اخستے! چنانچه ﴿۲﴾ حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ سَمّاك رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: زه هغه سړي ته حيران يم څوك چه د مال لګولو په ذريعه غُلام خو واخلي خو د نيكۍ (او ښيكړې) په ذريعه د آزادو خلقو (زړونه) نه اخلي. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۳ ص۳۰٤) **د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

## سخي هغه نه دي څوك چه په غوښتلو وركړه كوي

﴿۳﴾ حضرتِ سَیِّدُنا اِمام زَینُ العابِدین رضی اللہ تعالٰی عنہ فرمائي: څوك چه سوال كوونكو ته (په سوال كولو) وركوي هغه سخي نه دے، سخي خو هغه دے څوك چه د الله تعالٰی د اِطاعت كوونكو په باره كښې د الله تعالٰی حقونه پځپله پوره كوي او [چا نه] د شُكريه [ادا كولو] لالچ هُم نه ساتي ځكه چه هغه د پوره ثواب حاصلولو يقين ساتي. (ایضاً) د الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

## د دوست د خبر نه اخستو په وجه افسوس

﴿٤﴾ يو كس د خپل دوست د كور دروازه اوډبوله. هغه ترې تپوس اوكړو چه څنګه راغلے ئې؟ هغه اُووئيل: په ما څلور سوه دِرهمه قرض دے. د كور خاوند څلور سوه دِرهَمه وركړل او بيرته په ژړا راغے، ښځې ئې ورته اووئيل چه كه تا ته دا دِرهمونه وركول دومره سخت وو نو نه به دِ وركولے. هغه اُووئيل چه زه خو په دې ژاړم چه د هغه د وينا نه بغير زه د هغه د حال نه ولے خبر نه شوم تر دے چه هغه (غريب) زما د كور دروازه ډبولو باندې مجبور شو. (اِحیاءُ الْعُلوم ج۳ ص۳۱۱)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چه كمال دا نه دے چه ضرورتمند دوست دِ څه غوښتلو پسے راشي او مونږ دِ ئې وركړو، بلكه كمال خو دا دے چه د هغه مالي كمزورئ زمونږ په نظر كښې وي او د

هغه [غريب] په شرميدو شرميدو مونږ ته خپل حال وئيلو نه مخکښې پکار ده چه مونږه ورشو او اِمداد ئې اوکړو.

ہمیں اپنے فضل وکرم سے تُو کر دے
سخاوت کی نعمت عطا یا الٰہی

مونږ ته په خپل فضل و کرم ته کړې
د سخاوت نِعمت را عطا يا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عجيبه ميلمستيا

په "خَزائِنُ الْعِرفان" کښې دي چه د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې يو څل يو اوږے کس حاضر شو، آقائے نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو اُمَّهَاتُ الْمُؤمِنِين رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُنَّ په کورونو کښې معلومات اوکړلو چه که د خوراك څه خيز پيدا شي خو د يوے کره هُم د خوراك څه خيز نه وو. شاهِ خيرُ الانام صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته اُوفرمائيل: "**څوك چه دا ميلمه جوړ کړي اللّٰه تعالٰى دِ په هغه رَحمت اُوفرمائي.**" حضرتِ سَيِّدُنا ابُو طَلحه انصاري رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اودريدو او ميلمه ئې خپل کور ته بوتللو، کور ته چه لاړو نو د خپلو بچو د مور نه ئې تپوس اوکړو چه آيا په کور کښې څه طعام شته؟ هغے اووئيل چه صرف د ماشومانو د پاره لږ شان پروت دے. حضرتِ سَيِّدُنا ابُو طلحه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ

ورته اُوفرمائيل چه ماشومان په لوبولو لوبولو کښې اوده کړه. او چه کله ميلمه طعام ته کښيني نو د ډيوے صحيح کولو په بهانه پاڅه او ډيوه مړه کړه چه ميلمه ځان ښه موړ کړي. دا ترکيب د دې د پاره چه ميلمه پوهه نه شي چه کوربه طعام نه خوري ګني هغه به د خوراك ډير ست کوي او طعام کم دے، ميلمه به اوږے پاتې شي. دغسې حضرتِ سَيِّدُنا ابُو طَلحه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په ميلمه طعام اوخوړو او کوربۀ ېخپله په نهاره شپه تيره کړه. چه سحر شو او بارګاهِ نُبُوَّت کښې حاضر شو. نو د **اللّٰه** تعالیٰ **محبوب**، په غيبو خبردار، خوږ مدني سردار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چه حضرتِ سَيِّدُنا ابُو طلحه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اوليدو نو اوئې فرمائيل: بيګا د شپے د فلانکي فلانکي په کور کښې عجيبه معامله پيښه شوه. **اللّٰه** تعالیٰ د هغوئي نه ډير راضي دے او د سُورهٔ **حَشر** دا آيت نازل شو:

وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلٰۤى اَنْفُسِهِمْ وَ لَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﳴ وَ مَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓىٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۚ(۹)

مفهوم ترجمۀ کنزُالايمان: او په خپلو ځانونو نورو ته غوره والے ورکوي اګرچه هغوئي ډيره زياته مُحتاجي لري، او څوك چه د خپل نفس د لالچ نه بچ کړے شو نو هُم هغه کامياب دي. (خزائِنُ العِرفان ص۹۸٤ بتَصَرُّف)

**د اللّٰه تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

## خوږ نبي ﷺ به د بلې ورځې د پاره طعام نه ساتلو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په دې مَدَنـي حِكايت چه غور اوكړئ نو د عِبرت ډير مَدَني ګلونه حاصليږي. مَثَلًا شَهَنشاهِ دوعالم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خومره د سادګئ په حالت كښې ژوند تيرولو چه د يوے اُمُّ المُؤمِنِين رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا په كور كښې هُم د ماښام طعام نه وو. زمونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د توكُّل دا حال وو چه د صبا د پاره به ئې طعام نه ساتلو. اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فرمائي: "مونږه كله هُم پرله پسے درې ورځې په مړه ګيډه طعام نه دے خوړلے حالانكه خوړلے به مو شو خو (د خوړلو په ځائے به مو) اِيثار كولو." (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج٤، ص٩٢ حديث٨٦)

## د ماشوم د روزۍ اَهَم ترينه مسئله

په بيان شوي مَدَنـي حِكايت كښې د ماشومانو د پاره ساتلے لږ شان طعام په ميلمه باندې د خوړلو مُتَعَلِّق مُحَقِّق عَلَى الْاِطلاق، خَاتِمُ الْمُحَدِّثِين، حضرت علّامه شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: عُلماءِ كِرامو دا معامله په دې محمول كړې ده (يعني د دې نه مُراد دا دے) چه ماشومان اوږي نه وو بلكه په مړه ګيډه ئې [نوره] غوښتله ځنګه چه د ماشومانو عادت وي، ګني كه هغوئي اوږي وے نو د ميلمه نه مخكښې په اوږو بچو باندې خوړل واجِب وو او هغوئي واجِب ځنګه پريښودے شو (ځكه چه د واجِب تارِك [يعني پريښودونكے] ګنهګار وي) حالانكه الله تعالى د اَبُو طَلحه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ او د هغوئي د زَوجه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا صِفت بيان كړو. (اَشِعَّةُ اللّمعات، ج، ص) د

حديث شريف د دې شرح نه معلومه شوه چه د ماشومانو د لوَړې په صورت کښې په مور و پلار **واجِب** کيږي چه په هغوئي طعام اوخوري. دلته يوه مسئله د غور وړ ده او هغه دا چه په وړوکـي ماشوم په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې روژه نيول اګرچه جائز دي خو که هغه د لوَږې په وجه طعام اوغواړي نو په مور او پلار به **واجب** وي چه په هغه طعام اوخوري، اګر که د هغه د ژوند وړومبئ روژه وي، که بغير د شرعي اِجازته ئې پرې اُو نه خوري نو ګنهګار او د جَهنَّم حقداران به شي.

هو مہمان نوازی کا جذبہ عنایت

ہو پاسِ شریعت عطا یا الٰہی

راکړې د ميلمستيا جذبه راکړې

هُم خيال د شريعت را عطا يا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## که د اُحُد د غر هُمره سره زر وي نو بيا هُم .....

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُريره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چه سرکارِ نامدار، د دواړو جهانو سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "که زما سره د اُحُد (د غر) هُمره سره زر وي نو هُم ما ته هُم دا خوښه ده چه درې شپے تيرې نه شي چه په هغے کښې زما سره څه پاتې شي، خو که په ما دَين (يعني قرض) وي نو د هغے د پاره به څه کيږدم." (صحيح البُخارى، ج٤، ص٤٨٣، حديث٧٢٢٨)

## واورئ سُنّت عام كوونكو!

د خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت دعوٰی دارو او سُنَّتونه عام كوونكو! تاسو اوليده؟ چه كه د اُحُد د غر هُمره سره زر وي نو هُم زمونږه خوږ خوږ مكِّـی مَدَنـی آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ځان سره ساتلو ته تيار نه دے، او يو مونږه يو چه د عِشقِ رَسُول د دعوے كولو باوجود د مال جمع كولو د فكرونو نه نه خلاصيږو. افسوس! د حرام او حلال فرق هُم ورځ په ورځ ختميږي. زمونږه اسلامي خويندې هُم د سرو زرو جمع كولو ډيرې شوقياني وي، ټول سره زر د الله تعالٰی په لار كښې خيرات كول خو پريږدئ بعضې اسلامي خويندې خو د خپلو سرو زرو زكوٰة وركولو ته هُم تيارې نه وي او د نفس او شيطان په دوكه دا خبرې كوي چه مونږه څه ګټو خو نه، زكوٰة خو به هغه وركوي څوك چه څه ګټي! حالانكه داسې نه ده، كه د سرو زرو كالي وغيره د چا سره وي او د زكوٰة شرطونه پوره كيږي نو زكوٰة به فرض شي. د سرو زرو سره مينه لرونكې د حده تيريدونكې زنانه دا حديثِ پاك واورئ او د الله تعالٰی د ويرې نه په لړزان شئ او د نن ورځې پورې مو چه د تير ژوند څومره زكوٰة په ذِمّه دے د هغے حِساب اولګوئ او فوراً ټول ادا كړئ او د شرعي اِجازت نه بغير چه څومره تاخير [يعني ليټ] شوے دے د هغے توبه هُم اوكړئ.

## د اور بنګړي

د حُضُورِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار كښې دوه زنانه حاضرې شوې، هغوئي د سرو زرو كړې په لاس كړې وې. حُضُورِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ

وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي نه تپوس اوکړو چه تاسو د دې زکوٰة ورکوئ؟ هغوئي اُووئيل نه. خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: آيا تاسو دا خوښوئ چه **الله** تعالیٰ تاسو ته د اور کړې در واچوي؟ هغوئي اُووئيل: نه. نو اوئې فرمائيل: د دې زکوٰة ورکوئ. (سُنَنُ التِّرمِذِی،ج۳،ص۱۳۲، حدیث۶۳۷) د زکوٰة تفصيلي معلوماتو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارے **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوے د ۱۴۹ صفحو کتاب ''فيضانِ زکوٰة'' لوستل فائده مند دي.

## د بي بي فاطِمه اِيثار

حضرتِ سَيِّدُنا امام حسن رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: يوه ورځ د يو وخت د لوَږې تيرلو نه پس زمونږ په کور کښې د طعام ترکيب جوړ شو، زما بابا حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ او زما کشر ورور حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د طعام نه فارِغ شوي وو خو مور مُحترمې سَيِّدَةُ النِّساء فاطِمَةُ الزَّهرا رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا لا نه وو خوړلے، هغے رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا چه څنګه ډوډئ ته لاس کړو په دغه وخت کښې په دروازه کښې يو سوالګر غږ اوکړو: ''اے بِنتِ رَسُولُ الله! زه د دوه وخته اوږے يم ما موړ کړئ.'' مور محترمې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا فوراً د خوراك نه لاس اودرولو او ما ته ئې حُکم اوکړو چه لاړ شه! دا طعام سوالګر ته ورکړه، زه خو د يو وخت اوږې يم او هغه د دوه وخته راستې نه ده خوړلې. د **الله** تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

بھوکے رہ کے خود اوروں کو کھلا دیتے تھے
کیسے صابر تھے محمد کے گھرانے والے

اورېي به پاتي شُو په نورو به ئې اُوخوړله
څومره صابر وو د حُضُور د کورنۍ کسان

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په نورو د خوړلو څښلو عظيمُ الشّان ثواب

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو اوليده چه سَيِّده خاتُونِ جَنَّت رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا د لوَږې باوجود خپل طعام اِيثار كړو! افسوس چه! مونږه د اَهلِبَيتِ نُبُوَّت سره د مَحَبَّت لرلو د دعوے باوجود د خپل ضرورت نه پاتي شوے طعام چا ته د وركولو په ځائے په فريج كښې د آئنده د پار ساتو. يقين اوكړئ چه په اوږو طعام خوړلو او تږو باندي اوبه څښل د غټ ثواب كار دے. په دي باره كښې دوه فَرامينِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوګورئ: ﴿۱﴾ كوم مسلمان چه په يو اوږي مسلمان طعام اوخوري نو الله تعالٰى به په هغه په ورځ د قيامت د جَنَّت ميوے اوخوري او څوك چه په يو مسلمان په تنده كښې اوبه اوڅښې نو الله تعالٰى به په هغه په ورځ د قِيامت د مُهر والا پاك او صفا شراب اوڅښي او كوم مسلمان چه يو بے لِباسه مسلمان ته جامے واغوندي نو الله تعالٰى به هغه ته د جَنَّت شنے جامے واغوندي. (سُنَنُ التِّرمِذِی،ج٤ص٢٠٤ حديث٢٤٥٧) ﴿۲﴾ څوك چه په يو مسلمان په لوَږه كښې طعام

اوخوري او موړ ئي کړي نو اللہ تعالیٰ به هغه جَنَّت ته په هغه دروازه داخِل کړي په کومه به چه صرف د هغه په شان خلق داخِليږي.

(اَلْمُعْجَمُ الْكَبِيْر لِلطبرانی ج۲۰ ص۸۵ حديث۱۶۲)

کھلانے پلانے کی توفیق دیدے
پئے شاہِ کرب و بلایا الٰہی

په خلقو د خوړلو او څښلو توفيق راکړي
پـه خـاطِـر د شـاهِ کـربـلا يـا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عجيبه دسترخوان

د حضرتِ سَيِّدُنا شيخ ابُو الحسن اِنطاکي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه کره يو ځل ډير ميلمانه راغلل. ماښام چه کله د طعام وخت شو نو **ډوډئ** کمي وې، چنانچه ډوډئ ئې ټکړے ټکړے کړې او په دسترخوان ئې کيښودې او د هغه ځائے نه ئې ډيوه لرې کړه، ټول ميلمانه په تياره کښې **دسترخوان** ته کښيناستل، چه لږ ساعت پس په دې خيال ډيوه راوړے شوه چه اوس خو به ټولو خوړلي وي نو ټولې ټُکړے هُم هغسې موجودې وې او د اِيثار د جذبے په وجه چا يوه نوړئ هُم نه وه خوړلې ځکه چه د هر يو دا مَدَني سوچ وو چه زه دِ ئې اُو نه خورم خو چه خوا ته ناست اسلامي ورور مې موړ شي. (اِتحَافُ السَّادَة ج۹ ص۷۸۳) **د اللّٰه تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

# د خپل ضرورت څيز ورکولو فضيلت

الله! الله! زمونږه اَسلافو د اِيثار څومره عجيبه **جذبه** لرله او آه! نن صبا زمونږه د حِرص او طمعې جذبه، چه کله يو دعوت له لاړ شو او طعام شروع شي نو په خوراك داسې اخته شو چه د خوراك طريقه او نورې جُوول هُم را نه هير شي او بس دغسې ئې خيتې ته غورزول شروع کړو، چه هسې نه زما بل اسلامي ورور چرې په خوړلو کښې کامياب شي او مونږه پاتې شو! زمونږه د حِرص حالت څه داسې وي چه که وَس مو اوشي نو د بل د خُلے نه به نوړئ واخلو او بخپله به ئې اوخورو! کاش چه! مونږه هُم اِيثار کول زده کړو. د دوارو جهانو سردار خوږ مُحَمَّد عرَبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ''**څوك چه د يو څيز خواهِش لري، بيا هغه خواهِش حِصار کړي او په خپل ځان (بل کس) غوره کړي، نو الله تعالٰى هغه اُوبخښي.**''

(اِتحَافُ السَّادَةِ للزبیدی ج۹ ص۷۷۹)

ہمیں بھوکا رہنے کا اَوروں کی خاطر
عطا کر دے جذبہ عطا یا الٰہی

مونږ ته د نورو په خاطر د لوَږې تيرولو
راکړې جـذبـه را عـطا يـا اِلٰـهي

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اِیثار ثواب بې پیسو د حاصلولو نُسخه

کاش چه! مونږ ته هُم د اِیثار جذبه رانصیب شي، که د چا زړه څه خرڅ کول نه غواړي نو بغیر د څه خرچے نه هُم د اِیثار ډیرې موقعے په لاس راتلے شي. مَثَلًا که چرې دعوت له لاړ شو او د ټولو مخې ته طعام کیښودے شي نو [پکار ده چه] مونږه په دې نِیَّت ښه ښه بوټي نه راپورته کوو چه زمونږه بل وررور ئې اوخوري. دغسې که ګرمي وي نو په کوټه کښې یا د سُنَّتو د تربِیَّت مَدَني قافِله کښې په جُمات کښې دننه ډیر اسلامي وررونړه اُوده کیدل غواړي نو بخپله د پکي لاندې ځائے قبضه کولو په ځائے بل اسلامي وررور ته په موقع ورکولو د اِیثار ثواب ګټلے شو. هُم دغسې په بس یا ریل ګاډي کښې د ګنړې په صُورت کښې بل اسلامي وررور په زارئ په خپل سِیټ کښینوو او بخپله اودریږو، دغسې په موټر کښې د کښیناستلو د موقع لرلو باوجود د بل اسلامي وررور د پاره قُرباني ورکړو او هغه په موټر کښې کښینوو او بخپله پیدل یا په بس کښې سفر اوکړو، دغسې که د سُنَّتو ډکه اِجتِماع وغیره کښې ښه د آرام [د ناستې] ځائے پیدا کړو نو د بل اسلامي وررور د پاره ځائے فراخه کړو یا ورته هغه ځائے پریږدو، دغسې که طعام کم وي او خوړلو والا زیات وي نو بخپله کمه اوخورو یا ئې بالکل اُو نه خورو او هُم دغسې په نورو بیشمیرو موقعو که خپل نفس ته لږ شان تکلیف ورکړو نو بے پیسو د اِیثار ثواب ګټلے شو.

## د اِيثار كولو ثواب بې حِسابه جَنّت دې

حُجَّةُالاِسلام اِمام ابو حامِد محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په اِحياءُ العُلوم كښې ليكي چه: الله تعالیٰ حضرتِ سَيِّدُنا مُوسىٰ كليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ته اُوفرمائيل: اے مُوسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَام) يو كس داسې نشته چه هغه په ټول عُمر كښې اګر كه صرف يو ځل اِيثار اوكړي او زه په ورځ د قيامت د هغه نه د حِساب غوښتلو په وخت حيا اونكړم! د هغه مُقام جَنَّت دے، هغه چه چرته هُم غواړي اوسيږي دِ. (اِحيَاءُالعُلُوم ج۳، ص۳۱۸)

## چه د جَنَّت دُعا ورته كووم نو مالي اِيثار ولے اونكړم

حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان بِن عُيَينه رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه تپوس اوكړے شو چه **سخاوت** څه ته وائي؟ نو هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اُوفرمائيل: وروڼړو سره د ښيګړې سُلوك كول او مال وركول **سخاوت** دے. نور ئې اُوفرمائيل: زما والِد مُحترم رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته په وِراثَت كښې پنځوس زره دِرهمه پاتې شو نو هغوئې ترې خلتے ډكې كړې او په وروڼړو كښې ئې تقسيم كړې او اوئې فرمائيل چه ما په لمونځونو كښې الله تعالیٰ نه د خپلو وروڼړو د پاره د جَنَّت سوال كړے دے (چه هغه د ټولو نه عظيم دولت دے) نو اوس (د فاني دُنيا) په (دې سپك) مال كښې د دوئې سره بُخل ولے اوكړم؟

(اِحيَاءُالعُلُوم ج۳ ص۳۰۵)

د الله تعالیٰ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

سخاوت کی خصلت عنایت ہو یارب!
دے جذبہ بھی ایثار کا یا الٰہی

راکړې د سـخاوت خصلت یا رب!
راکړې جـذبه د اِیثـار هُـم یا اِلٰهی

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د چیلۍ سر

یو صحابي رضی اللہ تعالٰی عنہ د هدیے (یعني تُحفے) په طور بل صحابي رضی اللہ تعالٰی عنہ کره د چیلۍ سر اولیږلو نو هغوئي دا اُوفرمائیل چه زما فلانکے اسلامي ورور د دې سر زما نه زیات ضرورتمند دے نو هغه سرئې د هغه کور ته اولیږلو نو هغوئي اووئیل چه فلانکے زما نه هُم زیات حاجتمند دے او دغسې هغه سر ئې د یو بل صحابي رضی اللہ تعالٰی عنہ کور ته اولیږو. دغسې یو د بل کور او بل د بل کور ته هغه سر لیږو تر دے چه د چیلۍ هغه سر په ووه کورونو راتاو شو او بیا هغه ورومبي صحابي ته راورسیدو. (اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحَاكِم ج٣ ص٢٢٩ حدیث٣٨٥٢) د الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

## قُطبِ مدینه د اِیثار کوونکي تاجِر حِکایت بیان کړو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اولیده چه د غریبۍ او لوږې باوجود زمونږه په صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان کښې څومره د اِیثار جذبه وه چه هر یو

د خپل ځان په مقابله كښې بل غوره كولو او آه! نن صبا حالات بالكل برعكس [يعني مختلِف] دي، اكثر خلق د خپل ورور په حلالولو كښې مصروف دي. زما پير و مُرشِد سيِّدي **قُطبِ مدينه** حضرت مولانا ضياءُ الدِّين مَدَنـي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د تُركو د "دَورِ خِدمت" [يعني د تُركو د وخت] نه په مدينهٔ مُنَوَّره كښې اوسيدلو. د هغوئي وِصال [يعني وفات] په ۳ **ذُوالْحِجَّةُ الْحَرَام** ۱۴۰۱ سنِ هِجري كښې په مدينهٔ مُنَوَّره كښې اوشو او په **جَنَّتُ الْبَقِيع** كښې دفن شو. هغوئي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ته چا عرض اوكړو چه جناب! كله چه تاسو په شروع شروع كښې مدينے مُنَوَّرے ته راغلئ نو د هغه وخت مسلمانان څنګه وو؟ هغوئي اوفرمائيل چه يو مالدار كس په ډير مِقدار كښې د مدينے مُنَوَّرے په غريبانانو رخت [يعني كپړه] تقسيمول غوښتل لِهٰذا په دې غرض هغه يو دُكاندار ته اُووئيل چه ما ته د فلانكي رخت [يعني كپړے] دومره دومره تانونه پكار دي، دوكاندار اُووئيل: "تاسو چه كومه كپړه غواړئ هغه زما سره موجوده ده خو تاسو مهرباني اوكړئ او د هغه مخامخ دُكان نه ئې واخلئ، ځكه چه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما نن ښه سودا خرڅه شوې ده او د هغه عاجزه سودا نن كمه خرڅه شوې ده." [قُطبِ مدينه] اُوفرمائيل چه پخواني مسلمانان داسې د اِخلاص او **اِيثار** نمونه وو او د نن صبا مسلمانان خو تاسو وينئ چه د دوئي اكثريت څنګه په مال راټولولو او د يو بل په حلالولو كښې مشغول دے. **د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

## عجيبه ډاکوان

وائي چه پخوا د مدينے د لارې قَطَّاعُ الطَّرِيق يعني ډاکوان به هُم ډير عجيبه وو، چه کله به د ډاکوانو ډلې د حاجيانو قافِله لُوټ کوله او حاجيانو به هغوئې ته سلام اوکړو نو ډاکوانو به د سلام جواب نه ورکولو او چه کله به ئې د سلام په جواب کښې وَعَلَيْكُمُ السَّلَام اُووئيلو نو بيا به ئې هغوئې نه لُوټ کول او که د لُوټ کولو نه پس به ئې د سلام جواب ورکړو نو بيا به ئې لُوټ کړے سامان بيرته ورکولو ځکه چه ډاکوان د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ (يعني په تاسو دِ سلامتيا وي) او د وَعَلَيْكُمُ السَّلَام په معنیٰ (يعني او په تاسو دِ هُم سلامتيا وي) باندې ډير ښه پوهيدل يعني د هغوئې په زړه کښې دا وه چه چا ته په خپله ژبه "د سلامتيا دُعا" اوکړې نو هغه بيا څنګه لُوټ کوو؟!

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! دلته هيڅ کله هُم دا مطلب نه دے چه د سلام جواب نه ورکولو په وجه مَعَاذَالله ګني ډاکه جائز کيدله، بس مونږ ته د دې نه دا درس حاصلول پکار دي چه مونږه چا ته سلام اوکړو نو د هغه په باره کښې دا تصوُّر اوکړو چه مونږه د خپل ذات نه رسيدونکي هر قِسم شر نه هغه "سلامت" اوګڼړو. که داسې اوشي نو واقعي زمونږه معاشره به مَدَني معاشره جوړه شي. مسلمان ته د سلام کولو د وخت نِيَّت هُم ياد کړئ. چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارے **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** د چاپ شوې رسالے "١٠١ **مَدَني ګلونه**" صفحه کښې دي:

"سلام كولو وخت كښې په زړه كښې دا نِيَّت پكار دے چه چا ته سلام كووم د هغه مال او عِزَّت او پرده هر څه زما په حِفاظت كښې دي او زه په دې كښې په يو څيز كښې هُم دخل اندازي كول حرام ګنړم."

(بهارِ شريعت حِصّه ١٦، ص ١٠٢)

اے مدینے کے تاجدار سلام　　اے غریبوں کے غمگسار سلام
اُس جوابِ سلام کے صدقے　　تا قِیامت ہوں بے شمار سلام
وہ سلامت رہا قِیامت میں
پڑھ لئے جس نے دل سے چار سلام

اے د مدينے تاجـــداره سلام　　اے د غـريبانو غمګُساره سلام
په خاطر د هغه سلام د جواب　　تـر قِيامـته بيشماره سلام
هغه سلامت شو په محشر كښې　　چه ئې اووئيل يو خـو شماره سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## خپل طعام ئې سپي ته اِيثار كړو

حُجَّةُ الاِسلام اِمام ابو حامِد محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په اِحْيَاءُ الْعُلُوم جِلد ٣ كښې فرمائي: منقول دي چه حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن جَعفر رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د خپلې زمكې كتلو د پاره اُووتلو او په لاره كښې يو باغ ته ورغلو، هلته ئې يو غُلام په كار كولو اوليدو، چه كله هغه [غُلام] له طعام راغے نو د يو طرف نه يو سپے هُم راغے، غُلام يوه يوه ډوډۍ ور اچوله او دغسې ئې درې ډوډۍ ور واچولے، هغه سپي هغه ټولې اُوخوړلے. سَيِّدُنا

عبدُالله بِن جَعفر رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه د هغه غُلام نه تپوس اوکړو چه تا ته د ورځې خومره طعام درکول شي؟ هغه عرض اوکړو چه هُم دومره کوم چه تاسو اوليدو. هغوئي اُوفرمائيل چه هغه خو تا ټول سپي ته اِيثار کړو! هغه عرض اوکړو چه په دې علاقه کښې سپي نه وي، دا چرته د لرې ځائے نه راغلے دے، غريب اُوږے وو، ما ته دا ښه ښکاره نه شوه چه زه خو ځان موړ کړم او دا بے زبانه ځناور اُوږے پاتې شي. هغوئي ورته اُوفرمائيل چه نن به ته څه خورې؟ هغه عرض اوکړو چه: لَوږه به تيرووم. حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن جَعفر رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه د هغه غُلام د اِيثار نه ډير مُتأثِّره شو او د هغه باغ د مالِك نه ئې هغه باغ، هغه غُلام او باقي ټول سامان په بَيعه واخستو، هغه غُلام ئې آزاد کړو او هغه باغ وغيره هر څه ئې هغه ته ورکړل.

(اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم ج۳، ص۳۱۸)

## د سپي د اِيثار عجيبه حِکايت

سُبۡحٰنَ الله! د خوش نصيبه غُلام اِيثار ډير ډير مرحبا! هغه ته په دُنيا کښې هُم د ايثار څومره ښکلي بدله نصيب شوه چه ناڅاپه آزاد شو او د باغ مالِك جوړ شو. خير دا خو اِنسان وو، اوس د يو سپي د اِيثار عجيبه حِکايت واورئ چنانچه بعضي صُوفيائے کرام رَحِمَهُمُ الله تَعَالٰی فرمائي چه مونږه د "طَرطُوس" نه د جِهاد د پاره روان شو، د ښار نه راسره يو سپے هُم روان شو. چه د ښار د دروازے نه بهر اُووتلو نو هلته يو مړ ځاروے پروت وو، مونږه په يو اوچت ځائے کښيناستلو، هغه سپے ښار ته لاړو او څه ساعت پس بيرته راغلے خو يواځې نه وو بلکه تقريباً ۰ سپي ورسره نور وو، چه څنګه

راغلل نو په هغه مُردار خاروي راتهول شول خو هغه يو سپے جُدا کښيناستو او هغوئي ته ئې کتل. چه کله هغه ټولو اوخوړه او لاړل نو دا سپے ورپاڅيدو او هغه پاتې شوي هډوکي چيچل او خوړل ئې شروع کړل او بيا هغه هُم بيرته لاړو. (ايضاً ص۳۱۹)

## د ځنکدن په وخت کښې هُم اِيثار

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د سپي د ايثار په دې حِکايت کښې زمونږه د پاره د عِبرت بېشميره مَدَني ګُلونه دي، لکه دا سپے چه مونږ ته د خپل عمل په ذريعه د نيکۍ دعوت راکوي او وائي چه زه خو يو سپے يم او بيا هُم د اِيثار جذبه لرم، ما سپك ګڼړلو والؤ! تاسو ولے اِيثار نه کوئ. افسوس زمونږه حالت ډير خراب دے ګني زمونږه اسلاف داسې نه وو، هغوئي خو به د ځنکدن په وخت کښې هُم د اِيثار مِثال پريښودلو چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا حُذيفه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه د يَرموك په جنګ کښې ګڼړ شمير صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان شهيدان شو. ما اوبه په لاس په زخميانو کښې د خپل تره ځوئ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ لټولو، آخر هغه مې اوموندو، د هغه ساه ختله، ما ترې تپوس اوکړو چه اے اِبنِ عَم! يعني اے د تره ځويه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اوبه ښبے؟ په رپيدلي آواز کښې ئې په قلاره شان اُووئيل چه، آو جي. په دې کښې د چا د فرياد آواز راغے، زما د تره ځوئ په ځنکدن کښې په اِشاره اُووئيل چه مخکښې هغه زخمي باندې اوبه اوڅښه. ما چه اوکتل نو هغه **حضرتِ هِشام بِن عاص** رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وو، د هغوئي رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ هُم ساه ختله، ما د هغوئي نه د اوبو ښښلو تپوس کولو چه په دې کښې نزدے يو بل زخمي يوه

درد ناکه ساه واخستله. حضرتِ هِشام رضی اللہ تعالٰی عنہ اُوفرمائيل چه مخکښې په هغه اوبه اوڅښبه، زه چه د هغه زخمي خوا ته ورغلم نو هغه زما د اوبو څښلو حاجت نه لرلو ځکه چه هغه د شهادت جام څښلے وو نو زه فوراً بيا د حضرتِ هِشام خوا ته ورغلم خو هغوئي هُم شهيد شوے وو، بيا مې د خپل تره ځوئ خوا ته ورمنډه کړه خو هغه هُم شهادت حاصل کړے وو. رضی اللہ تعالٰی عنھُم (کیمیائے سعادت ج۲، ص٦٤٨) د اللّٰه تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونړه بے حِسابه بخښنه اوشي.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اللّٰه! اللّٰه! تاسو اوليده چه زمونړه صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د اِيثار څومره جذبه لرله. ساه ئې خيژې خو د هر يو دا خواهش دے چه که زه اوبه اوڅښم او که نه خو چه زما اسلامي وروړ ئې اوڅښي او دغسې په يو بل اوبه اِيثار کولو کولو کښې درې واړو د اوبو په ځائے جامِ شهادت اوڅښلو.

## د اوبو اِيثار کوونکې جَنّتي شو

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ٤٠٤ صفحو کتاب "ضيائے صَدَقات" صفحه ٠ کښې دي: د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس بن مالِك رضی اللہ تعالٰی عنہ نه رِوايت دے، خوږ مَدَنـي آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چه دوه کسان په صَحرا [يعني بيابان] تيريدل، په هغوئي کښې يو عِبادت گُزار وو او بل گنهگار وو، عابد (يعني عبادت گُزار) تږے شو، تر دے چه د سختې تندې نه راپريوتو نو د هغه ملگرې اوليدو چه هغه د بيهوشۍ په حالت

کښېې پروت دے، هغه سوچ اوکړو چه "که دا نيك بنده مړ شو، حالانکه زما سره اوبه هُم شته، نو د اللّٰه تعالیٰ له طرفه به کله هُم ښيګړه حاصله نه کړے شم، او که په ده اوبه اوڅښم نو زه به مړ شم." بهر حال هغه په اللّٰه تعالیٰ تَوَکُّل اوکړو او (د هغه عابِد د مدد) اِراده ئې اوکړه، څه اوبه ئې پرې اوشيندلې او باقي ئې پرې اوڅښلې نو هغه پاڅيدو او (دواړه) په صحرا تير شو. (د مرګ نه پس چه کله) د [هغه] ګُنهګار حِساب کيږي نو هغه ته به د جَهنَّم حُکم واورولے شي. فرښتے به هغه روان کړي، په هُم هغه ساعت به د هغه نظر (په هُم هغه) نيك بنده پريوځي، هغه به وائي: اے فلانکيه! آيا تا زه اوپيژندلم؟ نو هغه (عابِد) به وائي: ته څوك ئې؟ هغه به وائي: زه هُم هغه کس يم چا چه د بيابان په ورځ ته د مرګ نه بچ کړے وې! نو هغه به وائي: آو آو اومې پيژندلې. نو هغه نيك بنده به فرښتو ته وائي: اودريږئ نو هغوئي به اودريږي. بيا به رَبّ تعالیٰ ته سوال کوي، عرض به کوي: اے پروردَګاره! تا ته د دې کس په ما احسان معلوم دے، ده زه څنګه بچ کړے ووم! يا رب! د ده معامَله ما ته حواله کړې. نو اللّٰه تعالیٰ به فرمائي: هغه ستا په حواله، بيا به هغه نيك بنده راشي او خپل (هغه) ورور به د لاسه اونيسي او جَنَّت ته به ئې بوځي. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج۲، ص۱۶۷ حديث۲۹۰۶)

## د اِيثار مَدَني سپرلے

د يوے اسلامي خور سره پيښ شوے يو مَدَني سپرلے مُختصراً ستاسو په خِدمت کښې عرض کووم: د بمبئ په يوه علاقه کښې د تبليغِ قُرآن و سُنَّت

د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** له طرفه کيدونکي د اسلامي خويندو هفته واره د سُنَّتو ډکې اجتماع (د ګُل په ورځ صَفَرُالْمُظَفَّره، بمطابق 12.3.2007) په ختميدو يوے اسلامي خور يوے ذِمَّه دارې اسلامي خور ته د خپلو چپلو د بے دَرَکه کيدو شکايت اوکړو. ذِمَّه دارې اسلامي خور پرې اِنفرادي کوشش اوکړو او د خپلو چپلو پيش کش ئې ورته اوکړو. هلته موجوده يوه بله اسلامي خور چه د هغے مَدَني ماحول کښې د شامليدو تقريباً ووه مياشتې شوي وې، هغه رامخکښې شوه او اوئې وئيل چه "**آيا د دعوتِ اسلامي د پاره زه دومره قُرباني هُم نه شم وركولے!**" او خپلې چپلې ئې ورته پيش کړې او په زارئ زارئ ئې هغه نوې اسلامي خور چپلو قبلولو باندې مجبوره کړه او پخپله ښپے ابلے ښپے کور ته لاړه. د شپے چه اُوده شوه نو قِسمت ئې رابيدار شو! څه ګوري چه سرکارِ نامدار، د مدينے تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوارلسمې د سپوږمئ په شان ښکلے مخ تشريف فرما دے او يو د ډير عُمر **مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي** هُم شنه شنه عِمامه شريفه په سر کړې ده او د حُضُور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په قدمونو کښې حاضر دے. د سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکو شونډو حرکت اوکړو او د رَحمت ګلونه ترې رژيدل شروع شو او اوئې فرمائيل: د چپلو **اِيثار** کولو وخت کښې ستا د خُلے نه وتلي دا الفاظ"آيا د دعوتِ اسلامي د پاره زه دومره قُرباني هُم نه شم وركولے!" زمونږه ډير خوښ شو. (هغه اسلامي خور اُووئيل چه د دې نه علاوه ئې ما ته نوره حوصله هُم راکړله)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو**! تاسو اوليده! د **دعوتِ اسلامي** ”مَدَني ماحول“ کښې د اِيثار هُم څه ښکلے **مَدَني سپرلے** دے! او د اِيثار د فضيلت هُم څه ښکلي فضائل دي! د دوارو جهانو تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: ” **څوك چه د يو څيز خواهش لري، بيا هغه خواهش حصار کړي او په خپل ځان** (بل څوك) **غوره کړي** [يعني بل ته ئې ورکړي]، **نو الله تعالیٰ به هغه اُو بخښي**. (اِتحَافُ السَّادَةُ لِلزّبيدى ج ۹ ص ۷۷۹)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو**! آيا تاسو د خپل آخِرت د بِهترئ د پاره په **مَدَني قَافِله** کښې د سفر کولو د پاره صرف د درې ورځو قرباني هُم نه شئ ورکولے؟ د فِکر مُقام دے! آيا د **دعوتِ اسلامي** د پاره دومره قُرباني هُم نه شئ ورکولے؟

اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں
اے دعوتِ اسلامی تری دھوم مچی ہو

الله دِ کرم اوکړي په تا داسې په جهان کښې
اے دعوتِ اسلامي ته دِ عام شي په هر ځائے

**يا ربِّ مُصطَفیٰ**! مونږ ته په خوشحالئ خوشحالئ او په ښو ښو نِيَّتونو ډير ډير د **اِيثار** کولو توفيق راکړې او په مدينهٔ مُنَوَّره کښې د شين شين گُنبد لاندې شهادت، په **جَنَّتُ الْبَقِيع** کښې خښيدل او په **جَنَّتُ الْفِردَوْس** کښې بے حسابه داخِله راکړې او د خپل مَدَني حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په گاونډ کښې ځائے رانصيب کړې. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بے سبب بخش دے نہ پوچھ عمل
نام غفّار ہے ترا یا رب

تپوس مه کړه بے سببه مې بخشش کړې
نـوم غـفّار دے دا سـتا یـا ربّ

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص ۳٤۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا
جنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا
جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د لِباس ځوارلس مدني ګُلونه

اَوّل درې فرامِينِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوګورئ: ❁ د پيري د ستركو او د خلقو د سِتر په مينځ كښې پرده دا ده چه كله څوك جامے ويستل غواړي نو [مخكښې دِ] بِسمِ الله اولولي. (اَلْمُعجَمُ الاَوسط ج۲ ص۵۹ حديث۲۵۰٤) مشهور مُفَسِّر حكيم الاُمَّت حضرت مُفتی احمد يارخان رَحمۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: څنګه چه ديوالونه او پَردے د خلقو د نظر نه پناهي جوړيږي دغسي به دا د الله تعالٰی ذِكر د پيريانو د ستركو نه پرده جوړيږي او شيطان به هغه (يعني شرمګاه) نه شي ليدلے. (مِراۃ ج۱ ص۲٦۸)

❁ څوك چه جامے واغوندي او دا اولولي: اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ الَّذِیْ کَسَانِیْ ھٰذَا وَرَزَقَنِیْہِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَا قُوَّۃٍ (ترجمه: ټول صِفتونه الله تعالٰی لره دي چا چه ما ته دا جامے واغوستلے او زما د طاقت او قُوَّت نه بغير ئې ما ته عطا كړې) نو د هغه تير شوي او راروان ګُناهونه به معاف شي. (شُعَبُ الايمان ج۵ ص۱۸۱ حديث٦۲۸۵) ❁ څوك چه د قدرت [يعني وَس لرلو] باوجود ښے جامے اغوستل د تواضُع (يعني د عاجزئ) په طور پريږدي، الله تعالٰی به هغه ته د كَرامت حُلّه وراغوندي. (ابوداؤد ج٤ ص۳۲٦ حديث٤۷۷۸) ❁ د حُضُورِ اَكرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك لباس به اكثر د سپين رخت [يعني سپيني كپړے] وو. (كَشْفُ الاِلْتِباس فِی اِسْتِحْبَابِ اللِّبَاس لِلشَّيخ عبدُالحق الدِّهلَوی ص۳٦) ❁ لباس د حلالي كټې پكار دے او كوم لباس چه د حرامي كټې نه حاصل شوے وي، په هغے كښې فرض او نفل يو لـمونځ هم نه قبليږي. (ايضًا ص٤۱) ❁ منقول دي: چا چه په ناسته عِمامه اوتړله يا ئې په

ولاړه سَراوِيل (يعني پاجامه يا پرتوګ) واغوستو نو اللّٰه تعالٰی به هغه په داسې مرض کښې اخته کړي چه د هغې علاج نشته. (ايضًاص۳۹) ❀ د اغوستلو په وخت کښې د ښي طرف نه شروع کوئ (چه دا سنّت دي) مثلاً چه کُرته [يا قميص] اغوندئ نو مخکښې په ښي لِستوڼړي کښې ښے لاس داخلوئ بيا ګځ لاس په ګځ لِستوڼړي کښې. (ايضًاص۴۳) ❀ هم دغسې پاجامه [يا پرتوګ] اغوستلو کښې مخکښې په ښئ پينڅه کښې ښئ ښپه داخلوئ او چه کله (قميص يا پرتوګ) اوباسئ نو د دې برعکس (يعني برخِلاف) کوئ، يعني د ګځ طرف نه شروع کوئ. ❀ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ۱۱۹۷ صفحو كتاب **بهارِشريعت**، جلد ۳، صفحه ۴۰۹ كښې دي: سُنَّت دا دي چه د لَمَن اوګږدوالے د پنډئ د نيمې پورې او د لِستوڼړي اوګږدوالے زيات نه زيات د ګوتو پستو سرونو پورې او پلن والے ئې يو لويشت پکار دے. (ردُّالمُحتارج۹ص۵۹۷) ❀ سُنَّت دا دي چه د نارينه تهبند يا پاجامه [يعني پرتوګ وغيره] د ګيټئ [يعني پړکو] نه پاس وي. (مِراٰة ج٦ص٩٤) ❀ نارينه دِ د نارينؤ او ښځې دِ د ښځو جامے اغوندي، په وړو ماشومانو كښې هم د دې خبرې لحاظ ساتئ ❀ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي اِدارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ۵۰ صفحو كتاب **بهارِ شريعت** جِلد اَوّل صفحه ۴۸۱ كښې دي: د نارينه د پاره د نامه د لاندې نه واخله د زنګونانو د لاندې پورې "عورت" (يعني پرده) ده، د دې پټول فرض دي. نوم په دې كښې شامِل نه دے او زنګونان پکښې شامِل دي. (دُرِّمُختار،ردُّالمُحتارج۲

ص۹۳) په دې زمانه کښې ډېر خلق داسې شته چه تهبند يا پرتوګ داسې اغوندي چه د سپوغزو (يعني د نامه نه لاندې راوتلې ځائے) څه حصه ئې پکښې ښکاري، که په کُرته [يعني قميص] وغيره کښې داسې پټ وي چه د پوستکـي (يعني څرمنې) رنګ پکښې نه ځليږي نو خير دے، ګني حرام دي او که په لـمانځه کښې د څلورمې حصے په قدر ښکاره وو نو لـمُونځ نه کيږي (بهارِشريعت) خصوصًا د حج او د عُمرے اِحرام والؤ ته په دې کښې د سخت احتياط ضرورت دے. ❁ نن صبا بعضې خلق په ښکاره د خلقو په مخکښې جانګے (نيم پتلون) اغوستې ګرځي او په هغے کښې د هغوئې زنګونان او ورنونه ښکاري دا حرام دي، د داسې خلقو ښکاره زنګونانو او ورنونو ته کتل هم **حرام** دي. بِالخصوص د لوبو په ميدان، د ورزش کولو ځائيونو کښې او د سمندر په غاړه داسې نظارے زياتې وي. لِهٰذا داسې مقاماتو ته په تګ کښې سخت احتياط ضروري دے ❁ د **تکبُّر** په طور چه کوم لباس وي هغه ممنوع [يعني منع] دے. تکبُّر شته او که نه، د دې پيژندګلو دِ داسې اوکړي چه د دې لباس اغوستلو نه مخکښې چه د ده کوم حالت وو، که د اغوستلو نه وروستو هم د ده هُم هغه حالت وي نو معلومه شوه چه په دې جامو کښې تکبُّر پيدا نه شو. خو که هغه حالت ئې اوس نه وي پاتې نو بيا تکبُّر راغلے. لِهٰذا! د داسې جامو نه دِ ځان بچ ساتي ځکه چه تکبُّر ډېر خراب عيب دے. (ردُّالمُحتار ج۹ ص۵۷۹،بهارِشريعت ج۳ ص۴۰۹)

# مَدَني حُليه

کِيره، زلفے، په سر باندې شنه شنه عِمامه شريف (شين رنګ چه پوخ نه وي)، د تاکانو [يعني ټوټو] والا سپينه کُرته د سنّت مطابق د پنډۍ د نيمي پورې اوږده، لِستونړي يو لويشت اوږده، په سينه باندې زړه طرف ته جيب کښې ښکاره مِسواك، پاجامه يا پرتوګ د کِيټو [يعني پړکو] نه بره. [دامَدَني حُليه يعني د اوسيدو مَدَني انداز دے او] (په سر سپين څادر او په پرده کښې د پرده کولو د پاره په مَدَني انعاماتو د عمل په صورت کښې د نسواري رنګ څادر هم که ورسره وي نو مدينه مدينه)

**دُعائےعطّار**: يا الله عَزَّوَجَلَّ! ما ته او په مَدَني حُليه کښې اوسيدونکو ټولو اسلامي ورونړو ته د شين شين ګُنبد په سوري کښې شهادت، په جنّتُ البقيع کښې مَدفَن [يعني خښيدل] او په جنّتُ الفِردوس کښې د خپل خوږ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصيب کړي. يا الله عَزَّوَجَلَّ د ټول اُمّت بخښنه اوفرمائي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اُن کا دیوانہ عمامہ اور زُلف و رِیش میں
لگ رہا ہے مدنی حُلیے میں وہ کتنا شاندار

د حُضور عاشِق په زُلفو، کِيره او عِمامه کښې
خومره ښکلے ښکاري د هغه دا مَدَني انداز

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُالْمَدِيْنَه دوه كتابونه ﴿۱﴾ د ۳۱۲ صفحو كتاب "**بهارِشريعت**" حصّه ۱٦ او ﴿۲﴾ د ۱۲۰ صفحو كتاب "**سُنَّتيں اور آداب**" هديه كړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو كښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

سيكهنے سنّتيں قافلے ميں چلو　　لوٹنے رحمتيں قافلے ميں چلو
هوں گی حل مشكليں قافلے ميں چلو　　ختم هوں شامتيں قافلے ميں چلو

زده كړئ بنكلي سُنَّتونه قافِلو كښې لاړ شئ
اوګټئ ډير رحمتونه قافلو كښې لاړ شئ
حل به موشي مشكِلونه قافلو كښې لاړ شئ
شي به لري آفتونه قافلو كښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کيدونکي د دعوتِ إسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره توله شپه تیروئ ❀ د سُنَّتو د تربيَّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❀ هره ورځ د "فِکرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَني إنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com